د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

شنبه ۱۰ ربیع الثاني ۱۴۴۱هـ | ۲۰۱۹-۱۲-۰۷م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۴

**مطبوعاتي اعلاميه**

# حزب التحرير د امت دی او د امت په منځ کې فعالیت کوي!
# نه مرموز دی او نه یې هویت مجهول دی!

د افغانستان د ملي امنیت پخوانی رییس او جمهوري ریاست ته کاندید رحمت الله نبیل د پنجشنبې په ورځ د ټاکنیز ناورین په اړه د مطبوعاتي کنفرانس پر مهال وویل: «د داعش بحث جدي کېږي... هغه سازمانونه او جوړښتونه چې په ډېرو مجهولو او مرموزو نومونو تشکیل شوي وو، خپل موقعیت او دریځ روښانه کوي. د حزب التحریر خطر په څو ولایتونو کې زیاتېږي، د دوی تمایل د داعش خوا ته زیاتېږي».

**د حزب التحریر ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر؛** د نبیل د بې اساسه او بېباکه څرګندونو په اړه لاندې ټکي له رسنیو او د افغانستان له مسلمان ولس سره شریکوي:

- نن د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس؛ په ځانګړې توګه علما، قومي مشران، سیاسي رهبران او ځوانان، حزب التحریر په ټول افغانستان کې پېژني، له افکارو او پروګرامونو یې خبر دي او له غړو سره یې نېکې اړیکې لري. ځکه حزب التحریر د همدغه مجاهدپال ولس زامن او ورونه دي، نه بل څوک. نو دغه حزب او غړي یې نه مرموز دي او نه مجهول!

- حزب التحریر د اسلامي امت -چې د افغانستان مجاهد ولس هم د دغه واحد جسم یوه برخه دی- د دنیا او آخرت د سعادت او نېکمرغۍ لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کوي. نو حزب التحریر د افغانستان د مسلمانو خلکو لپاره خطر نه دی، بلکې دا په پردیو هېوادونو او استخباراتي سازمانونو پورې اړوند بې پروګرامه سیاستوال دي، چې د خلکو عقاید، مقدسات، د کورونو حریم او د خلکو شتمنۍ یې له خطر سره مخ کړې دي.

- حزب التحریر په منځني ختیځ کې د داعش د مرموزې ډلې په اړه د هغې د تشکیل په هماغه لومړیو ۲۰۱۴م کې خپل دریځ روښانه بیان کړ او یاده ډله یې د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو له لوري یوه پروژه وګڼله، کوم چې دغه واقعیت اوسمهال ټولې نړۍ ته روښانه شوی دی. نو د داعش لور ته د حزب التحریر د تمایل تور یو څرګند تهمت دی چې له سیاسي ناپوهۍ څخه سرچینه اخلي.

د افغانستان مجاهد خلک شاهد دي چې نبیل د افغانستان د ملي امنیت د رییس په توګه د دندې پر مهال د ډېرو دعوت کوونکو په ځانګړې توګه د حزب التحریر د غړو له نیولو او تعذیبولو وروسته په افغانستان کې د امت د یووالي او خلافت لپاره د دعوت له مخنیوي عاجز پاتې شو او دا دی اوس د فاسدو او بدنومه ډیموکراتیکو ټاکنو له تېرولو وروسته د افغانستان په مسلمانو خلکو کې د زیاتې عاجزۍ له امله، د خپلو ناکامیو د پټولو په موخه د دغه مخلص او ویښوونکي حزب په اړه تهمت ویلو ته مخه کړې.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**